لایق جان خوستی ۲۰۱٦/۰٤/۱۳

# د استاد صلاح الدین سلجوقي د ۱۲۰ تلین په یاد

صلاح الدین سلجوقي د مفتي سراج الدین زوی چې نسب یې مولانا محمد سلجوقي ته رسیږي او مولانا محمد سلجوقي د احمدشاه بابا په وخت کښې په افغانستان کښې شیخ الاسلام بلل کیدو، صلاح الدین سلجوقي په ۱۸۹٦م کال کښې په هرات کښې په یوه علمي کورنی کښې د اختیارالدین لرغوني قلعه ترځنګ نړی ته سترګي غړولي.



صلاح الدین سلجوقي د هرات په دیني مدارسو کښې خپلې زدکړې ترسره کړې، د مور په خبره یې چې په ۱۲ کلنی کښې صلاح الدین سلجوقي په هرات کښې شیخ الاسلام ملا محمد عمر ته ولیږلو، چې د هغه سره خپلی زدکړی سرته ورسوي، صلاح الدین د شیخ الاسلام سره د لږ وخت تیره ولو ځخه وروسته په ډیر کم عمر کښې تدریس پیل او شاګردانو ته به یې درس ورکولو.

صلاح الدین سلجوقي په پنځلس کلنی کښې مروج او متداول علوم پای ته ورسول او پلار سره د هرات ځخه کابل ته ولاړ چې په کابل کښې د "افتاء" امتحان ورکولو ځخه وروسته د امیر حبیب الله خان د فرمان پر اساس د پلار سره یوځای د هرات محکمی د غړي په حیث وټاکل شو، او پدی کالونو کښې د مفتي صلاح الدین په نوم پیژندل کیده.




صلاح الدین سلجوقي په علمي ځیرنو بوخت وو، چې فیزیکي، کیمیایي او طبي برخه کښې ځیرنی ترسره کړې، همدا راز یې د فلکیاتو او هیئت سره هم سر او کار درلود، سلجوقي د ژبو پوهنی په برخه کښې په عربي ژبه او عربي ادب کښې بی ساری و، همدا راز په انګریزي، فرانسوي، جرمني او اردو ژبو هم پوهیدو، استاد صلاح الدین سلجوقي په فلسفه، تصوف، الهیات او ماوراء الطبیعه کښې آثار لري، چې د فلسفي علومو په ټولو برخو کښې مخکښ و، همدا


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

رنګه صلاح الدین سلجوقي شاعر هم و، وتلی شاعر استاد خلیل الله خلیلي د (آثار هرات) په نوم کتاب کښې لیکي:
سلجوقي ډېر پوخ شاعر دی چې په شعر کښې نوښت لیدل کیږي، چې د قوي روح او مقتدر قلم خاوند دی.
صلاح الدین سلجوقي په لومړي ځل په ۱۲۹۶هـ.ش، کال کښې د هرات محکمی شرعي مفتي وټاکل شو، د هغې وروسته په کابل کښې د حبیبیې په لیسه کښې د دري او عربي ژبو ښوونکی وټاکل شو، او په ۱۲۹۷ هـ.ش، کال کښې بیرته په هرات کښې د مطبوعاتو د چارو مدیر په حیث وګمارل شو او په هغه وخت کښې یې د (اتفاق الاسلام) او (فریاد) خپرونو ته لیکنې کولی، چې وروسته د اتفاق الاسلام ورځپاڼې مدیریت ته ورسیدو، وروپسی د کابل په استقلال لیسه کښې د ښوونکی، مقدس او سپیڅلي مقام باندی ونازول شو، او په ۱۳۰۵ هـ.ش کال کښې د شاه امان الله خان په دربار کښې د تحریراتو مدیر وټاکل شو او د هغې څخه وروسته د بهرنیو چارو په وزارت کښې د مطبوعاتو مسؤلیت ورپر غاړه شو، وروسته په هندوستان کښې د افغانستان جنرال کنسل په حیث چې ډېره مهمه وظیفه بلل کیده، ډهلي ته ولیږل شو.
صلاح الدین سلجوقي په ۱۳۲۸هـ.ش کال کښې په پارلمان کښې د هرات خلکو منتخب وکیل او وروپسی د مطبوعاتو خپلواک ریاست، د نني د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سره برابره ده، مشر وټاکل شو، او په ۱۳۳۳ هـ.ش کال کښې په قاهره کښې د افغانستان سفیر او د اعلیحضرت محمد ظاهرشاه د افغانستان ټولواک خاص استازي په توګه جمال عبدالناصر ته معرفي شو، استاد سلجوقي په قاهره کښې د افغانستان د سفیرانو د ترتیب پر آساس د حضرت محمد الصادق المجددی، او مرحوم عبد الهادي داوي څخه وروسته، دریم سفیر بلل کیږي او په مصر کښې هغه سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او ټولنیز کارونه ترسره کړل چې د کوم بل هېواد سفیر هغه څه ندي ترسره کړي.
د (العلاقات الأفغانية والمصرية فى مرآة الوثائق والصور) کتاب چې په قاهره کښې د افغانستان سفیر ښاغلي فضل الرحمن فاضل په عربي ژبه لیکلی چې انځوریزه برخه هم لري، داسی په ډاګه کیږي چې د علامه سلجوقي په وخت کښې د افغانستان او مصر تر منځ د مشرانو او لوړپوړو چاراوکو په کچه تګ راتګ زیات شوی، د بیلګې په توګه جمال عبد الناصر او ورسره محمد انور السادات په ۱۹۵۵م کال کښې د کابل څخه لیدنه وکړه چې په لړ کښې یې د علامه سید جمال الدین د آرامګاه زیارت ته ولاړ، همدا ډول محمد ظاهرشاه په ۱۹۶۰م کال کښې قاهرې ته راغی، او په ۱۹۵۷م کال کښې خدای بښلی سردار محمد داود خان د صدر اعظم په توګه قاهرې ته په تاریخي سفر تللی و، او سردار محمد نعیم خان د بهرنیو چارو وزیر په توګه، وروپسی مرحوم عبدالرحمن پژواک، دکتور محمد یوسف خان او نورو مشرانو د قاهرې څخه لیدنی کړي، او په کابل کښې هم ښاغلی فرید ابو شادي د مصر عربي جمهوریت استازی و، چې استاد سلجوقي غوندی یې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ښو اړیکو په برابرولو زحمتونه ګالل.
استاد صلاح الدین سلجوقي د خپلو علمي فعالیتونو په لړ کښې د مصر د (مجمع اللغوي) چې د مصر د ژب پوهنی عالي مرکز دی، غړیتوب هم تر لاسه کړ، او همدا راز یې په قاهره کښې د (المجلس الاعلی للشئون الإسلاميه) یا د اسلامي چارو لوي شورا غړیتوب هم ترلاسه کړ، همدار راز صلاح الدین سلجوقي ته په قاهره کښې په ډیپلوماسي برخه کښې د شیخ السفراء لقب ورکړل شوی و، او همدا رنګه سلجوقي ته د جامي او هروي لقبونه هم ورکړل شوي وو، چې ځینې څیړونکي یې د فرانسی وتلي لیکوال (اناتول) سره پرتله کوي، چې سلجوقي یو شخص نه بلکه ډېر شخصیتونه درلودل او د بیله بیلو اشخاصو رول یې تر سره کولو، صلاح الدین سلجوقي پدې باور و، چې یوازې په فرهنګي چارو او لیکوالی باید بسینه ونه شي، بلکه انسان باید ټولنیز مسؤلیتونه هم د پامه ونه غورځوي، له همدی کبله ښاغلي سلجوقي په رسمي توګه سیاسي چاري او په حکومت کښې یې د ژوند تر وروستیو شیبو خدمت وکړ چې

خپل هېواد او ملت ته يي د قلم او فکر ميراث پرېښود، د صلاح الدين سلجوقي ۱۲ ليکلي آثار مونږ ته رارسيدلي چي په لاندی ډول دي:

۱- آيينۀ تجلی

۲- اشعار پراگنده

۳- گوشه ای از پيغام تو

۴- مقدمهء علم اخلاق

۵- جبيره

۶- نگاهی به زيبايی

۷- تجلی خدا در آفاق و انفاس

۸- تقويم انسان

۹- ترجمهء تهذيب الاخلاق ابن مسکويه

۱۰- نقد بيدل

۱۱- محمد در شيرخواره گی

۱۲- افکار شاعر

دا کتاب نږدی ۷۰ کاله پخوا ليکل شوی چي د استاذ د پاخه عمر کتاب بلل کيږي پدی کتاب کښي د پخوانيو شاعرانو شعرونو ته کتنه شوی او هغه اشعار د استاذ سلجوقي لخوا تفسير شوي چي ډېر په زړه پوری کتاب دی، دا کتاب د استاد سلجوقي د ۱۲۰ تلين لمانځنی په درشل کښي په قاهره کښي د افغانستان سفارت له خوا له چاپه ووت.

وتلی ايراني عالم (علی اصغر حکمت) وايي د استاذ سلجوقي سره مي په (استالف) کښې څو ساعته تيرکړي، چي سلجوقي راته لوي عالم ښکاره شو، فارابي او ابن رشد يي را ياد کړل، (ډاکټر شمس الحق اريانفر) وايي: کابل ته د امريکي د ژورنالستانو يو پلاوی راغلو، د سلجوقي سره يي دده د کار په دفتر کښي ليدنه درلودله، په خبرو کښي ځيني ژورنالستانو د سلجوقي د انگريزي ځيني کلماتو د ژباړي غوښتنه کوله، ځکه صلاح الدين سلجوقي علمي او فلسفي کلمات استعمالول چي ډېر امريکه يي او اروپايي ځوانان د دی اصطلاحاتو سره بلد نه وو.

دکتور نجيب کيلاني د مصر وتلی اديب چي شاوخوا ۶۰کتابونه لري وايي: د "اسلامي ادب" اصطلاح مي په لومړي ځل د استاد او افغان سفير ښاغلي صلاح الدين سلجوقي نه اوريدلي او زياتوي چي سلجوقي د هغه کسانو په ډله کښي راځي چي د اسلامي ادب دائره يي پراخه کړی.

پروفيسور دکتور شوقي ضيف رحمه الله د عربي علومو نوماند استاذ چي شاوخوا سل ۱۰۰کتابونه يي ليکلي وايي: اسلامي ادب ته د غوښتنی خبره د روانی پيړۍ په وروستی نيمايي کښي د صلاح الدين سلجوقي، سيد قطب، او دکتور نجيب کيلاني له خوا راپورته شوی.

صلاح الدين سلجوقي د هندوستان د نيمه وچي مشهور شاعر ډاکټر اقبال لاهوري سره هم ښه دوستي لرله، چي هر کال به يي څو اونی په يو ځای سره تيرولی او خپل نظريات به يي سره شريکول، ځکه اقبال لاهوري په افغانستان کښي د تعليمي نصاب سره مرسته کوله، او د پاچا محمد نادرشاه له خوا اقبال لاهوري په ۱۹۳۳م کال کښي د دی لپاره گمارل شوی و چي د افغانستان په تعليمي نصاب کښي اصلاحات راولي، او سلجوقي په افغانستان کښي د علمي او اکاډيميکو جريانونو اساسي غړی و، او په حکومت کښي په همدی برخه کښي رسمي وظيفه درلودله، صلاح الدين

سلجوقي او اقبال لاهوري د نوښت راوستلو په ډګر کښي يو د بل څخه متاثره وو، چي دغه تأثر د تعليم او تربيي، او د لوړو زدکړو لپاره په نصاب کښي بدلون او په يو ځای کار او همکاری کښي روښانه دی.
د دی څخه وروسته کله چي استاد سلجوقي په هندوستان کښي د افغانستان جنرال کونسل وټاکل شو په خپل دفتر کښي به يي د اقبال لاهوري سره ليدل کتل درلودل، چي دواړه يو د بل سره د فلسفی، تصوف، شعر، او فارسي ژبی په تار تړل شوي وو، ځکه اقبال لاهوري وايي: د فارسي ژبی اوستاذ يي سردار صلاح الدين سلجوقي دی چي د افغانستان د مشهورو اديبانو څخه شميرل کيږي.
صلاح الدين سلجوقي کله چي په قاهره کښي مريض شو، د مصر "المجمع اللغوي" له خوا د سلجوقي په درانوي د صلاح الدين، "سلجوقي" تر عنوان لاندی يوه غونډه جوړه کړه چي د مصر وتلي پوهانو پدی غونډه کښي ګډون کړی و لکه: عباس محمود العقاد، استاذ او دکتور منصور فهمي او د مجمع اللغوي غړو، دوي ټولو صلاح الدين سلجوقي ته د مننی او تقدير مراتب وړاندی کړل او د عربي ژبی ادب ته يي د ده هڅی او خدمتونه وستايل، چي تر ټولو مشهور هغه ليکچر يي هر چا يادولو، کله چي سلجوقي د عاميانه لهجو په هکله د "اللهجات العامية فرقت بين الأمم" تر عنوان لاندی په قاهره کښي ليکچر ورکړی و.
په وروستيو کښي راځو د استاد سلجوقي په هکله د ده وطندار پوهاند عبد الحی حبيبی څخه د سلجوقي په هکله آورو، پوهاند عبدالحی حبيبي د استاذ صلاح الدين سلجوقي په هکله په خپل کتاب (تاريخ مختصر افغانستان) کښي وايي: سلجوقيان هغه هراتي کورنی ده چي ډير زيات علماء لري، يو مثال يي صلاح الدين سلجوقي دی چي اديب، مفکر، محقق او څيرونکی شخصيت و.
په قاهره کښي د افغانستان سفارت د استاذ صلاح الدين سجوقي د ۱۲۰ تلين په ياد د سلجوقي په هکله ۶ کتابونه چاپ کړی، چي لومړی کتاب (أثر الإسلام في العلوم والفنون) چي په قاهره کښي د افغانستان سفير فضل الرحمن فاضل په زيار ترتيب او چاپ ته وړاندی شوی، چي د کتاب په پيل کښي، ښاغلي فاضل د افغانستان او مصر ترمنځ تاريخي اړيکو ته کتنه کړی او په زړه پوری شننه يي پری کړی.
دويم کتاب: (علامه صلاح الدين سلجوقي آراء وأفكاره) دا کتاب د ازهر پوهنتون د يوی محصلی "ميرمن می فوزي محمود نصار" د ماسټري دوری تيزس دی چي د ازهر پوهنتون د فارسي ژبی ادبياتو کښي پری ماسټری اخيستی، او په قاهره کښي د افغانستان سفارت فرهنګي څانګي له خوا چاپ شوی.
دريم کتاب: (تأثير اسلام بر فلسفه و هنر) دا کتاب د استاد سلجوقي عربي کتاب دی چي دري ژبی ته ژباړل شوی.
څلورم کتاب: (تجلى الله في الأفاق ولأنفس) دا کتاب مصري ليکوالی "ميرمن مي فوزي" د فارسي څخه عربي ته ژباړلی.
پنځم کتاب: المناجات (راز ونياز) چي د تجلی خدا در آفاق وانفس، سريزي حيثيت لري، او ډير په زړه پوری صوفيانه طرز باندی ليکل شوی، دا کتاب هم مصري ليکوالی "ميرمن مي فوزي" د فارسي څخه عربي ته ژباړلی چي افغان سفير ورته په زړه پوری سريزه ښکلی، او په قاهره کښي د افغانستان سفارت فرهنګي څانګي چاپ کړی.
شپږم کتاب: (علامه سلجوقي نويسندهء مقتدر و عاليمقام) دا کتاب ښاغلي غلام حبيب نوابی ليکلی چي پدی کتاب کښي د استاد سلجوقي ۱۳ مقالي راټولي شوي چي په لومړي ځل په ۱۳۳۲هـ ش. کال کښي په بدخشان کښي چاپ شوی و، چي په لوستلو ارځی او په قاهره کښي د افغانستان سفارت د فرهنګي څانګي په زيار په دوهم ځل چاپ شو.

اووم کتاب: (افکار شاعر) د استاد سلجوقي هغه ارزښتمن کتاب دی، چي په شاوخوا ۲۸۰ پاڼو کښي د استاد سلجوقي د ۱۲۰ تلین د لمانځنی په یاد په قاهره کښي د افغانستان سفارت فرهنګي څانګي له خوا چاپ شو، او دا کتاب د استاد سلجوقي وراره ښاغلي سعد الدین سلجوقي او نوماند شاعر استاد سید نورالحق صبا په سریزو پیلیږي.

په وروستی برخه کښي د استاد سلجوقي دوه مهم کارونه یادوو چي د سید جمال الدین افغاني د پیژندګلوی په هکله یې ترسره کړي.

۱ میرزا لطف الله اسد آبادي چي څان د سید جمال الدین افغاني خوریه ګڼي په ۱۹۲۶م کال کښي په برلین کښي د (شرح حال وآثار سید جمال الدین اسد آبادي معروف به افغاني) تر عنوان لاندی یوه رساله چاپ کړه، چي وروسته په ۱۹۵۷م کال کښي په قاهره کښي د هغه رسالی عربي ژباړه د دکتور عبد النعیم حسنین او صادق نشأت په تعلیقاتو او سریزو د دی عنوان لاندی چي (جمال الدین الأسد ابادی المعروف بالأفغاني، کما یقدمه ابن أخته میرزا لطف الله خان) چاپ شوه، چي جمال الدین افغاني ایراني الاصل ګڼي په هغه وخت کښي د جمال الدین په هکله په مصر کښي غوغا جوړه شوه، او د دی توطئي په مقابل کښي استاد سلجوقي د جمال الدین افغاني پیژندنی په برخه کښي پراخه مبارزه پیل کړه په مختلفو پوهنتونونو او فرهنګي غونډو او مراسمو کښي یې د افغان سفیر په حیث لیکچرونه ورکول، او په رسنیو کښي یې د سید پیژندنی په هکله لیکنی کولی، چي په نتیجه کښي یې په هغه وخت کښي د سید جمال الدین د ایراني بللو توطئه شنډه کړه.

۲ کله چي په ۱۹۶۰م کال کښي شیخ محمود ابوریة مصري سید جمال الدین پیژندونکی، چي د سید په هکله یې ۴ څلور کتابونه لیکلي، چي د استاد سلجوقي نژدی ملګری و د سید جمال الدین افغاني اولنی کتاب (الرد علی الدهریین یا (نیچریه) تحقیق او چاپ ته برابره کړه، استاد سلجوقي ورته په زړه پوري علمي سریزه په ۲۲ مخونو کښي لیکلی ده، چي پدی سریزه کښي استاد سلجوقي د جمال الدین افکار او د چاپیدونکي کتاب نچوړ راخیستی، او پدی کتاب کښي د شیخ أبوریة له خوا سلجوقي پدی ډول یاد شوی "مقدمه بقلم الفیلسوف صلاح الدین سلجوقي سفیر أفغانستان في جمهوریة العربیة المتحده".



اعلیحضرت محمد ظاهر شاه، جمال عبد الناصر او استاذ سلجوقی قاهره کی په ۱۹۶۰م





استاد عبدالرحمن پژواک - جمال عبدالناصر - سردار محمد نعیم - استاد سلجوقی -          ناصر - نعیم خان سلجوقی

وروستی یادونه: د استاد سلجوقي کوم اثر لا تر اوسه په پښتو ندی ژباړل شوی، هيله ده چي ځوان کهول پدی برخه کښي د استاد ځيني مهمو آثارو ته پاملرنه وکړي لکه: جبيره، تجلی خدا در آفاق و انفاس، چي د عقائدو او فلسفی بحث کوي، په پښتو ژبه و ژباړي، چي د افکارو او نظرياتو څخه يي کټه واخيستل شي، او په خاصه توګه هغه ځوانان چي ديني زدکړو او فلسفي نظرياتو سره سر اوکار لري د استاد سلجوقي ليکنو او آثارو څخه ډېر څه زده کولی شي. تر بيا!



حضرة السيد الأجل صاحب السعادة الأستاذ
"صلاح الدين السلجوقي" سفير المملكة
الأفغانية بمصر حفظه الله

أحييكم تحية الإجلال والولاء. وأسأل الله دوام
الانتفاع بمعارفكم وبحوثكم في خدمة العالم الإسلامي
والعالم الشرقي على العموم، ويسرني أن ألبي اقتراحكم
بالبحث في نسبة العالمين العظيمين أبي ريحان البيروني
وابن سينا، وأثق من أنني - حين تتهيأ لي فرصة
البحث في هذا الصدد - سأجد من مراجعكم ومعلوماتكم
مددا لا يستغني عنه باحث في هذه المقارنة، وأود
أن أتوفر على هذا البحث في زمن قريب، شاكرا
لسيادتكم كريم عنايتكم وحسن ظنكم، وراجيا
أن نلقاكم على الدوام على أحسن ما تحبون.

المخلص
عباس محمود العقاد

٢٠/٥/١٩٥٦

د مشهور ليکوال عباس محمود العقاد ليک علامه سلجوقی ته



# الرئيس عبد الناصر يستفسر عن صحة السفير السلجوقى

ألمت بالسيد صلاح الدين السلجوقى ، سفير صاحب الجلالة ملك أفغانستان لدى الجمهورية العربية المتحدة ، وعميد السلك السياسى فيها، وعكة طارئة مساء يوم ٢٩ ديسمبر ١٩٦١ ، اضطر على أثرها أن يلازم الفراش . وقد عاده طبيبه الخاص ليلة الحادث عدة مرات . وفى اليوم التالى عاده عدد من الاطباء من اخصائيى القلب والامراض الباطنية الذين أجمعوا على وجوب ملازمته الفراش ثلاثة أسابيع ، فى راحة وسكون تامين .

وقد مرت الأيام الأربعة الأولى للمرض ، عنيفة قاسية ، ثم بدأت صحة السيد السفير تتحسن ، مما جعل الأطباء يطمئنون عليه ، ويستبشرون خيرا بشفائه التام .

وقد تكتمت السفارة نبأ مرضه فى الأيام الأولى . ولكن لم يكد يسرى خبر وعكته حتى وفد على دار السفارة ، السفراء ، وكبار رجال الدولة ، وعلية القوم من أصدقائه وزملائه ومعارفه ، يرجون له الصحة والعافية . وتوالت باقات الزهور تحمل تمنيات الشفاء له . ولم تنقطع الاستفسارات التليفونية ، للاطمئنان على صحته .

## استفسار الرئيس

**وعندما علم فخامة السيد الرئيس جمال عبدالناصر بالنبأ ، أوفد السيد ابراهيم رشيد ، أمين القصر الجمهورى للاستفسار عن صحة السيد السفير وابلاغه خالص تمنياته بالشفاء . كما بعث فخامة الرئيس بباقة زهر ، مرفقة ببطاقة أعرب فيها ، عن تمنياته له بالصحة والعافية .**

وفى أوائل الأسبوع الثانى من المرض ، والأيام التالية ، زار السيد السفير فى غرفته ، كل من السيد كمال الدين حسين نائب رئيس الجمهورية ، واللواء محمد صالح حرب الرئيس العام لجمعيات الشبان المسلمين . كما استفسر عن صحته الدكتور محمود فوزى وزير الخارجية ، والسيد حسين ذوالفقار صبرى نائب وزير الخارجية ، والسيد محمد حافظ اسماعيل ، وكيل وزارة الخارجية ، والسادة مديرو الأقسام المختلفة بوزارة الخارجية ، ورجال السلك السياسى وعدد من أصحاب الصحف ، ورؤساء التحرير وغيرهم ، وبعث أكثرهم بباقات زهور .

## ومن سردار محمد نعيم

وكذلك وردت برقيتان من سردار محمد نعيم النائب الثانى لرئيس وزراء أفغانستان ووزير الخارجية الأفغانية ، تعربان عن تمنياته بعاجل الشفاء للسيد السفير .

## السفير يشكر الرئيس

هذا وقد بعث السيد السفير الى فخامة رئيس الجمهورية ببرقية الشكر التالية :

**« تفضلكم بالسؤال عن صحتى قوى قلبى وأنعش روحى . أدعو لفخامتكم بدوام التوفيق ، وأبقاكم الله للاسلام والعروبة والحق ملاذا ونصيرا . »**

ويسرنا أن نعلن بأن صحة السيد السفير فى تقدم مطرد ، ولله الحمد . وانه بعد الأسابيع الثلاثة التى حددها الأطباء لراحته التامة ، أصبح فى مقدوره أن يغادر غرفته ، ويستريح بعض الوقت فى صالونات السفارة ، حتى يكتب الله له الشفاء التام .

په مطبوعاتو کی خپره شوی خبر  چه جمال عبد الناصر د سلجوقی د حال نه پوشتنه کوی



استاد سلجوقی جمال عبد الناصر سره د مصافحه په حال کی